مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۴/۰۸/۲۷

# د ادیب ډالۍ

کلونه وروسته

چې د یادګارونو المارۍ ته

ودرېږې

د ډالیو منځ کې به

زما ډالۍ را واخلې

د ګلونو پوښ که ترې لرې کړې

په هغه کې به

یو کتاب وي

چې زما او ستا په مینې به

لیکل شوی وي

د کتاب په لومړۍ پاڼه به یو شعر

لیکل شوی وي

او په وروستیو پاڼو کې به یې حتماً

د اوسنۍ جدایي برعکس

زموږ جوړه عکس وي

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ